# د چين د دورې احوال

ارباب محمد طاهر خان خليل

د چين كميونسټ پارټۍ د جنوبي ايشيا د سياسي پارټيو يو كانفرنس جوړ كړے ؤ. د چين كميونسټ پارټۍ د نورو جنوبي ايشيا د سياسي پارټيو سره سره زمونږ پارټۍ ته هم بلنه وركړه چې دغه سيمينار كښې ګډون وكړي، په دغه پروګرام كښې د شپږو ملكونو پاكستان، انډيا، بنګله دېش، سري لنكا، نيپال او مالديپ د ديارلسو سياسي ګوندونو مندوبين شامل وو. د هر يو سياسي ګوند نه دوه دوه كسانو شركت كړے ؤ او د نورو بېلابېلو ملكونو نه نولس كسان شامل وو. د پاكستان نه عوامي نېشنل پارټۍ او متحده قومي مومنټ ته بلنه وركړې شوې وه. زمونږ د پارټۍ مشرانو د پارټۍ مركزي ايډيشنل سكرټري جنرل محترم هاشم بابراو زۀ (صوبائي سكرټري اطلاعات پښتونخوا) د تګ دپاره منتخب كړو او ايم كيو ايم د قومي اسمبلۍ غړي نديم احسان او راشد ګوډل خوښ كړي وو.

د هوائي ډګر د مارچ په وړومبۍ نېټه پاؤ كم يوولس بجې مونږ ځلور واړه د اسلام اباد نه د بيجنګ دپاره روان شو. سحر چې بيجنګ ته ورسېدو نو هلته د موسم درجه حرارت ٦ ؤ او سخته يخني وه. په هوائي ډګر د كميونسټ پارټۍ دوه غړي موجود وو يو ترجمان ؤ او بل په چينۍ ژبه خبرې كولې. دوي ډېر په ښه طريقه زمونږ هر كلے وكړو او نېغ ئې Wanshou Hotel ته ورسولو. د شپې مو سفر كړے ؤ نو د آرام نه پس د پاكستاني سفارت خانې كاركوونكي خبر كړو چې ماښام خواړۀ به د پاكستاني سفير سره وي. ماښام د پاكستان سفير محسود خان سره د ماښام ډوډۍ له لاړو چرته چې د پنجاب سره تعلق لرونكي درې ځلور پارليمنټرېن هم موجود وو.



د ۳ مارچ نه تر ۶ مارچ په بیجنګ کښې د چین د پنځهٔ زره کلن تاریخ، د ۱۹۲۱ انقلاب، د چین کمیونسټ ګوند، د چین ثقافت، اکنامکس، سوشل پالیسۍ او سیاسي نظام وغیره په حقله تفصیلي لیکچرې راکړې شوې او د هر لیکچر نه پس د سوال او ځواب وقفه هم وشوه. لیکچرونه به د کمیونسټ ګوند ډائریکټر او ډپټي ډائریکټر ورکول چې په خپله موضوع ورته پوره پوره عبور حاصل ؤ او خپل نقطهٔ نظر به ئې په تفصیل سره په واضحه طریقه بیانولو.

۱۹۲۱ کښې د چین کمیونسټ پارټۍ بنیاد کېښودے شو، د کمیونسټ پارټۍ د سختې مبارزې نه پس ۱۹۴۹ کښې د دنیا په نقشه نوے چین جوړ شو. چین اصل ترقي د ۱۹۷۸ نه ۲۰۰۸ پورې وکړه. د چین ټوله رقبه ۹۰۶ ملین کلومیټر مربع ده. د ۲۰ هیوادونو سره ئې سرحد لګیدلے دے. چین سره د تائیوان په ۲۳ صوبو مشتمل دے. عوامي جمهوري چین یو ترقي یافته ملک دے او په کوم رفتار چې ترقي کوي نو په یو میدان کښې به هم د چا نه وروستو پاتې نهٔ شي. د دې لویه وجه د کمیونسټ پارټۍ بهترین تنظیم او هغې کښې وخت په وخت اصلاحات کول او نوے او ځوان قیادت وړاندې راوستل دي. د پارټۍ د تربیت په مرکزونو کښې د ۴۰ کالو نه د زیات عمر عهدیدارو ته داخله نهٔ شي ورکولې. د عهدیدارانو باقاعده امتحانونه اخستے کیږي او د هغې نه پس منتخب کیږي. د ورکرانو سره نزدې رابطې لري او د هغوي د ضرورتونو او مسائلو د هوارولو بهترین نظام لري.



د چین کمیونسټ پارټۍ ۷۵ ملیونه غړي لري چې هر پنځهٔ کاله پس په آئین کښې اهم بدلونونه کوي.

په ۷ مارچ د بیجنګ نه Guiyang ته لاړو، کوم چې د هوائي جهاز په ذریعه تقریبًا درې ګینټې سفر ؤ. د لسم مارچ پورې مو هلته د مختلفو کلیو او بانډو دورې وکړې. د فارن افئیرز آفس دوره مو وکړه، په لاندې سطح مو د پارټۍ د تنظیم کار وکتلو د صحت، تعلیم او نور ترقیاتي نظام مو وکتلو. په لسم مارچ د Guiyang نه د جهاز په ذریعه Gyangzhou ته لاړو. هلته مو د مختلفو ځایونو دورې وکړې. هلته مو د دوي د پارټۍ سکولونه وکتل چرته چې د پارټۍ عهدیدارانو ته تربیت ورکړے کیږي. په تربیت ورکونکو کښې ډاکټران، پروفیسران او انجنیئران شامل وو.

د Guangdong folk Arts Museum دوره مو هم وکړه، کوم چې ډیر په جدید طرز جوړ کړے شوے دے. په دولسم مارچ مو ډاکټر سن یات سین کور وکتلو، په دغه ورځ د ډاکټر سن یات سین ۸۴ تلین ؤ. په دغه ورځ دغلته ډیر خلق راغلي وو چې د طالب علمانو شمیر پکښې ډیر ؤ. ډاکټر سن یات سین هغه وړومبے سړے ؤ چې په هغه وخت یورپ

ته د تعلیم دپاره تللے ؤ او چې کله واپس راغے نو خلق ئې دې ته اماده کړل چې بهر د تعلیم دپاره لاړ شي. د دهٔ کور د نورو کورونو نه ډېر مختلف ؤ، خوا تـه ورسره ګرجه وه، وئیل کېږي چې یو ځل دې ګرجې ته لاړو او خلقو ته ئې ووئیل چې د دې بتانو عبادت مهٔ کوئ، دهٔ د یو بت دوه ګوتې ماتې کړې او خلقو ته ئې ووئیل چې دے خو ځان نهٔ شي بچ کولے نو تاسو به څهٔ بچ کړې. ډاکټر سن یات سین هغه وړومبے مبارز ؤ چې د شهنشاهیت خلاف ئې جدوجهد وکړو او په ۱۹۱۱ کښې ئې په چین کښې جمهوریت ته لاره هواره کړه. دې د چئیرمېن ماؤزے دونګ سخر هم ؤ. د ډاکټر سن یات سین د کور لیدلو نه پس مو بیا د یوې کارخانې دوره وکړه چرته چې په یو وخت کښې اتهٔ زره خلقو کار کولو او په ورځ کښې به درې شفټونه چلېدل یعنې دې کارخانې ۲٤ زره خلقو تـه روزګار او د هغوی د بچو دپاره د تعلیم، صحت او اوسېدو بندوبست کړے ؤ.

مونږ د Guangzhou یونیورسټۍ دوره هم وکړه، چرته چې یو لک پنځوس زره طالب علمانو تعلیم حاصلولو. دا یونیورستي په دوه کاله کښې



جوړه کړې شوې وه. دلته د ټولو طالب علمانو دپاره د اوسېدو بندوبست هم شته، د هر یو طالب علم نه پنځلس سوه ین د کال فیس اخستے شي او په دې کښې د دهٔ ټول اخراجات شامل وي او ورسره ورسره جدید تعلیم ورکولے کېږي.

د چین ښارونو دومره ترقي کړې ده چې اوس د کلیو او بانډو نه خلق ښارونو تـه راوستلے کېږي او هلتـه ابادولے شي، ځکه چې په ښارونو کښې د روزګار، تعلیم، صحت او نور د ژوند ضرورتونه او اسانۍ موجودې دي. اوس د چین حکومت د کلیو او بانډو د ترقۍ طرف ته پاملرنه کړې ده. په دغه ځایونو کښې د وړاندې نـه د کمیونسټ پارټۍ تنظیمونه موجود دي چې ډېر کار ئې کړے دے.

زما په خیال داسې Pzogzam کهٔ وطن پارټیو له کول پکار دي چې د جدیدو غوښتنو مطابق د پارټۍ تنظیم جوړ کړے شي. د وخت سره سره د پارټۍ په آئین کښې د ضرورتونو مطابق بدلونونه پکار دي چې په دې کښې نور ښهٔ والے راوستے شي



او په عملي کار نوره هم توجه ورکړے شي. د پارټۍ
دپاره ضروري ده چې د لاندې سطحې نه واخله بره
پورې يو فعال تنظيم موجود وي. د فنډنګ جديد
نظام موجود وي او د پارټۍ په آئين مکمل عمل
کېږي.